# دپښتو ژبې په بډاینه کښې د مهاجرت ونډه

## Contribution of Migrations in the enrichment of Pashto

Dr. Abdul Jabar Sapand*

**Abstract**:

Pashto language is in the period of development and experienced several factors of promotion and enrichment since the Thousands of years of its life, the main factor of its development is the migrations of Pashtoon tribes, while they were exchanging linguistically and proved the dialectical variety, lexical and grammatical diversity to enrich their language at all.

**Key Words:** Pashto language, Language, Migration, Development, Vocabulary, Tribes, Dialects, Pakhtoons, Grammar and Changes

سریزه:

مهاجرت د وګړو په ژوند ، تجربو او پوهه کښې بدلون او زیاتونه رامنځته کوي. ژبه د بدلون ، تنوع او دژوند چاپیریال له اثراتو خوندي نه ده، څومره چې د ژوندژواک په ماحول ، کړنو او حالاتو کښې تغییرات راځي ، نو په ژبه کښې هم دپراختیا او تنوع اثرات محسوسیږي.

مهاجرت د ژوند غالي له تنوع سره سره د وګړو په مفاهمه او د نویو وګړو سره د ګړېدا ، نویو کلماتو ، د ژوند د وسایلو او تجربو د نویو تصویرونو ، پدېدو او لغوي پانګې سره دژبې په اډانه کښې زیاد ښت رامنځته کوي.

* Associate Professor, Education University, Kabul Afghanistan

پښتو ژبه د لرغونو زمانو څخه د پښتو دژوند ګڼ شمیر مهاجرتونه تجربه کوي او لاهم د مهاجرت تازه تازه تجربې د نوې نړۍ له اساساتو سره سم ترسره کوي چې دپښتو ژبې په بډاینه ، پرمختک او پراختیاکښې یې کارنده ونډه لرلې ده.

دپښتو ژبې دپرمختګ او پراختیا لاملونه ګڼ دي او د بوې مقالې په لمن کښې نشي راټولېدلی نو ماهڅه کړې چې له هغې ډلې یواځې دمهاجرت برخه وڅېړم او په هغو پرمختګونو بحث وکړم چې د مهاجرتونو له امله دپښتو ژبې په برخه شوي دي.

مهاجرت (Migration)

د مهاجرت پدیده یوه نوې مساله نده بلکې د انسانانو له منځته راتک سره سمه را منځته شوې ده د پخوا راهیسې د یوه خاص ځای اوسېدونکی د خپلو اړتیاوو د نسبي معلوماتو او شناخت څخه وروسته هڅه کوله چې دا اړتیاوې له منځه یوسي چې یو له هغو مهمو او ښو لارو څخه د خلکو مهاجرت له یوه ځای څخه بل ځای ته دی .

مهاجرت (migration) مترادف کلمه ده چې (migration miqrare) د ځای پر ځای کېدل یا اوسېدلو په مانا دی . (۱)

د مهاجرت لپاره لکه ځینو نورو په دېدو یو ټاکلی او مشخص تعریف چې د ټولو پوهانو لپاره د منلو وړ وی نشته . بلکې هر یوه د خپلې پوهې او سلیقې سره سم تعریف وړاندې کړی دی ، چې له هغو جملو څخه ما ځینې اړین چې د مهاجرت په دېده په ښه ډول څرګند ولی شي را نقل کړی دی .

پی یرلروی: د استعمال په کتاب کښې وایي: «مهاجرت یو ډول اجتماعي او اقتصادي اقدام بولي چې د انسان له طبعي فطرت او اړتیاوو سره همغږی وي»

رولان پروسا ؛ (1985) فرانسوي بشر پېژندونکی وایي: «مهاجرت د خلکو یا ګروپونو هغه حرکتونه دي چې د یو معمولي فرد دایمي تغیر یا د یو ځای د ډېر وخت او سېدونکي په بر کښې لري» . (۲)

د آريانا دايرة المعارف په شپږم توک کښې مهاجرت (کډوالي) د هجرت کولو او له خپل وطن نه بل ځای ته د انتقال کولو په معنا دی او په اصطلاح کښې د يو هېواد او سيمې پرېښودل او په بل هېواد او سيمه کښې مېشتېدل دي .(۳)

زما په اند مهاجرت د خلکو يو ډول انتقال يا ځای پر ځای کېدل دي چې له خپل اصلي ځای يا هېواد څخه بل ځای ته يا له يوې منطقې څخه بلې منطقې ته د بېلا بېلو علتونو په وجه (فقر – ظلم۔ناروغتيا ۔خوارکي توکو کمښت ، طبيعي افتونه ، جنګ ، بېکاري ، بې امنيتي) يا هم د ژوند مساعدو شرايطو د رامنځته کښېدو لپاره ښه تعليم ښه کار او اقتصاد د اوسېدلو ځای ښه روغتيايې امکانات ، سياسي ازادي او نورو بېلابېلو عواملو په وجه تر سره کيږي .

دپښتنو دمهاجرتونو په اړوند ګڼ روايات شته آريايان اته زره کاله پخوا د افغانستان په شمال کښې د نفوسو د زياتېدلو له امله کډوالۍ ته اړ شول ، په دې توګه يې د خپل ټاټوبي ختيځو لوېديځو او سهيلي سيمو ته کډه وکړه که څه هم د هغوی د کډوالېدو اصلي لامل نه دی په ګوته شوی ، خو داسې ښکاري چې د اقليمي شرايطو سختوالی ، دوګړو زياتېدل او د څړ ځايونو کمښت ددې چارې لامل شوی وي .

هغه څه چې له تاريخي څېړنو څخه ترلاسه کيږي دا مسله جوتوو چې آريايان له ميلاد درې زره کاله مخکښې د کوچنيو قبيلو په بڼه د آريانا په ډېرې لرې پرته ختيځه سيمه د پامير فلات په لوديځ کښې مېشت شول . او ځينې په دې باور دي چې هغوی د هندوکش غرونو شمالې سيمو ته وکوچېدل او هلته مېشت شول .(۴)

سرڅېړونکی دکتور خليل الله اورمړ آريايانو مهاجرتونه په په اړوند وايي:

((آريايان درې زره کاله مخکښې له ميلاد څخه په خپلو لومړنيو ځايونوکښې د (سايبريا سواحل دلارام بحيرې خوا او شا ، د کسپين بحيرې په شمالي برخو کښې او د قفقاز په درو کښې) مېشت ول او د هغه وخت له مخې د دوې مهاجرت په څلورو مرحلو ويشل کيږي .))

لومړۍ مرحله : د دار ديک او نورستاني ژبو اوسېدونکو مهاجرت .

دویمه مرحله : د هندو آریایانو مهاجرت : دویدي ژبو ویونکو او د اوستایي ژبو د ویونکو یعنې باختریانو ، پښتنو ، اورمړیانو ، پراچېانو او پامیریانو مهاجرت .

دریمه مرحله : د میدیانو او فارسیانو مهاجرت .

څلورمه مرحله : د هغو آریایي اقوامو مهاجرت چې اوس په منځنۍ آسیا کښې میشت دی ( خوارزمیان، سغیدیان ، ساکان او نور ). (۵)

دا مهاجرت ډېر وروسته پېل کېږي، دې خلکو د آریانا ویجې په شا او خوا کښې ژوند کاوه او له دغې سیمې بهر ول، د قبل المیلاد د زرم کال په نیمایي کښې د آریاني ژبو ویونکو د خپل تم کېدو ځایونو ته د سمت درکوي او د تاریخي ژبپوهنې او د تاریخي کلتوري روابطو د څېړنو په اساس راجوتیږي چې منځنۍ آسیا د قبل المیلاد تر زرم کال پورې د آریانې ژبو مرکز و گرځېد . چې ساکي لهجه د منځنۍ آسیا په شمالي برخه ( سردریا ) کښې خپره وه د منځنۍ آسیا د زرافشان او کاشغر تر سنده پورې سغدي ژبه خپره وه د آمو سیند په کوزه برخه کښې خوارزمي ژبو او جنوبي لور ته یې باختري ژبه خپره وه پښتو ژبه له باختر نیولې جنوب لور ته د افغانستان مرکزي او ختیځې سیمې تر اټک پورې او جنوب لویدیځ لور ته تر هرات پورې پښتانه خپاره وه او پښتو ژبه مروجه وه .(۶)

وروسته د پښتو آریایانو له دې مشهور مهاجرت څخه هم د پښتنو مهاجرت دوام پیدا کوي مخکې له اسلامي پېړو څخه دوی تقریبا د افغانستان په ټولو سیمو کښې لکه : کابل ، غزني ، پکتیا ، پېښور ، سند ، پکتیکا ، کندهار ، هرات، بامیان او نورو سیمو ته مهاجرت کوي او هلته مېشت کیږي یا هم کولای شو ووایو چې له آمو څخه تر اټکه . له هراته تر کشمېره له کرمانه تر ملتانه . له چترال تر عربو پورې پښتنو هستوگنه درلوده .(۷)

سره له دې چې پښتانه دننه په افغانستان کښې په بېلا بېلو سیمو کښې میشت شوي دي او د هېواد د ننه یې له یو ځای څخه بل ځای ته مهاجرت کړی دی . د بېلا بېلو عواملو په وسیله یې

نورو هېوادونو ته لکه : مقدونيه ، هند ، فارس ، عربي متحده امارات ، لويديځو او دنړۍ ګڼو هېوادونو ته مهاجرتونه کړي دي.(۸)

مهاجرتونو دپښتو ژبې په بډاينه کښې ستره ونډه لرلې ده ، د پښتو ژبې دپيدا ايښت راز هم د مهاجرت پورې تړلی دی.

له ميلاد نه وړاندې دساکي ژبې د پراختيا او د آريايي قبائيلو د کثرت په سبب پښتو چې د ساکي ژبې يو ګړدود وو د آرياني تاريخي مهاجرتونو څخه وروسته يې د مستقلې ژبې په حيث پراختيا موندده او دپېړيو پېړيو پرمختيايي مزل وروسته په ټوله نړۍ خوره شوه، د نويو څېړنو له مخې پښتو اوس د نړيوالې تکنالوژۍ برخه ده او له نورو ژبو سره سيالي کوي او پښتانه نږدې په ټوله نړۍ خواره دي چې د اټکل له مخې يې شمير نږدې سلو ميليونو ته رسيږي.

دمهاجرتونو په دليل پښتو په لاندې برخو کښې پراخه شوې او د يو شمېر تغييراتو او پرمختياوو جوګه ده:

۱- ګړدودونه:

دپښتنو ټبريز وېش ، مهاجرتونه اوګڼ شمېر استوګنځايونه ددوی دلهجوي کثرت لاملونه دي . چې ژبه يې ډېره پراخه کړې ده ،نو په زغرده ويلای شوچې پښتو ژبه دنړۍ يوه له هغو ژبو محسوبيږي چې دلهجو شمېر يې په مراتبو ډېر دی .

دپروفېسور مارګنسټرني دافغانستان مشرقي ولايات يې د ژبو جنت يادکړی ،چې موخه يې ديوشېمر آريايي ژبو اودپښتو ژبې دګڼو لهجو موجوديت دی .

نومورې دخپلو ليکنو اوڅېړنوپه ترڅ کښې دپښتو لهجوي ډلې د يو شمېر فونېمومونوپر بنسټ (ښ-ږ) دغريزو ځانګړنو له مخې سره په څلورو ډلو ووېشلې .

همدا وېش د ده شاګرد (کېفر) په بله بڼه او لږتغير سره توضيح کړی دی .همدا راز دجغرافيوي موقعيت له مخې هم دپښتو ګړدودي ډلې وېشل شوي .(۹)

یوه بله وېشنه دتبریز وېش له مخې هم تر سره شوې . په همدې ترتیب دپښتوادب پنځم ستوری استاد پوهاند صدیق الله «رښتین» دپښتو ژبې لهجې په دوه (اصلي او فرعي) لهجو وېشلي دي.( ۱۰)

تر دې دمه ماته معلومه دا پنځه ډوله وېشنه دپښتو لهجو ترسره شوې ده ،چې هره وېشنه یې ځانته ځانګړی بحث غواړي .ماپه دې لیکنه کښې دپروفېسور مارګنستیرنې دګړدودیز وېش دوه ډلې د لیکسیکي یالغوي توپیرونو له مخې پرتله کړې دي. چې له مخې یې ددواړوګړدودي ډلوترمنځ لغوي پولې رامنځته شوي دي.

دپښتو ژبې اوسنۍ لهجوي احصایې په دقیقه توګه لانه دي موجودې خوپه راتلوونکښې کښې یې د کره ارقامو د رامنځته کښېدو تمه کښېدای شي.

دا مهال په پښتو ژبه کښې تر سلوزیاتې لهجې حساب شوې دي ، چې پښتو ژبه د لهجو تنوع او ګښېت کښې د پښتنو ټبرونو د مهاجرتونو په پایله کښې رامنځته شوې ده.

۲- وییپانګه:

دپښتنو ټبرونو د لېږد رالېږد ، د نړۍ له نورو ولسونو سره د راشه درشې ددوی د ژبو تر منځ د لغوي راکړې ورکړې دود په پراخه پېمانه وپاله چې په پایله کښې یې د پښتو ژبې په وییپانګه کښې د پرمختګ او بداینې اثرات رامنځته تر سترګو شول.

د پښتو ژبې ټول قاموسونه او فرهنګونه په اصل کښې ددې د وییپانګې ښکارندویي کوي. چې لومړنی قاموس چې په لاس راغلی د ګولډن شتیت الماني (۱۷۴۵-۱۷۸۱م) پښتو فرهنګ دی چې ټول (۲۱۵) پښتو وییونه یې راټول کړي او په (۱۷۹۱م) کال په لېننګراد کښې چاپ شوی دی.

د پښتو دریاب قاموس تقریباً ۶۴زره پښتو لغتونه لري. پښتو روسي قاموس اسلانوف تقریباً پنځوس زره، تشریحي قاموس تقریباً ۴۷زره او داسې نور . خو زه په دې توانېدلی یم چې په تېرو لسو کالو کښې تر ۶۰زرو ځخه زیات دغسې لغتونه راټول کړم چې په یادو قاموسونو کښې نشته ددغو لغتونو ځخه زیاتره ما د قاموسونو ټکی کام وېپانې د کتونکو د سرچ کوېږیز یا

لټونونو څخه راټول کړي دي.زه الحمد الله دغه ډول تر دوه اعشاریه پنځه ملیونه څخه زیات سرچ کوېږیز لرم مانا دا چې کله یو څوک زما پاڼې ته راځي او د یو لغت معنی لټوي نو دغه لټون ثبتېږي او بیا زه کولای شم ورڅخه هغه لټول شوي لغتونه را جلا کړم چې په پښتو ژبه کښې شته خو په قاموسونو کښې لاندې راغلي. که زه دغه لغتونه چې خلک یې په خبرو او لیکنو کښې کاروي او په هیڅ قاموس کښې نه دي راغلي، خو ما راټول کړي،د پښتو د موجودو قاموسونو سره یو ځای کړم نو د پښتو د هغو لغتونو شمېر چې مونږ ورڅخه د پښتو یو لوی نوی قاموس جوړولای شو و تقریباً ۱۳۳زرو الفاظو ته رسیږي. یعنې د دریاب دوه چنده زیات به وي (۱۱).

دښاغلي اڅکزي د اوسنۍ احصایي له مخې پښتو ژبه اوس نږدې ۱۳۳زره لغتونه په انلاین توګه لري.چې په نړیواله کچه د استفادې وړ دي.(۱۲)

داهم دیادولو وړ بولم چې د پښتو ژبې د لغوي پانګې تقریباً ۷۵٪خپل اصل لغتونه دي او پاتې ۲۵٪یې د نورو ژبو څخه په مستعار ډول اخیستي دي.(۱۳)

پښتو د اوسنۍ لغوي بډاینې سره سره لاهم ډېر کار او زیار ته اړتیا لري.چې د نړۍ له نورو ژبو سره په پرمختیایي او تکنالوژیک ډګر کښې سیالي وکړای شي.

۳- ګرامر(Grammar):

د پښتو ژبې ګرامر ي جوړښت او په هغه کښې تغیرات او تحولات په یوه نړیوال علمي او ژبپوهنیز بحث بدل شوي . (تاریخي پلوه چې د پښتو ژبې اړیکې د لرغونو ژبو سره مطالعه کیږي د پښتو ژبې په جوړښتني نظام باندې د اړوندو ژبو اثرات او په خپله د پښتو ژبې په ګرامري مزاج کښې د تحولاتو شاهد یو.

د اوستا ، سانسکریت او دپښتو ترمنځ د وییونو او ګرامري جوړښتو نږدیوالی او یو پر بل یې د جوړښتي نظام اثرات ښکاري. (۱۴)

که څه هم پښتو یوه محافظه کاره ژبه ده او تر ډېره یې خپل ګرامري جوړښتونه ساتلي خو بیا هم غږونو په برخه کښې د عربي ژبې یو شمېر غږونه به پور اخیستي، چې ټول ټال لس غږوي. او د عربي یو واول چې په عربي کې حمزه او په پښتو کښې زیر ګڼو پښتو ته راغلي.(۱۵)

د صرف په برخه کښې د پښتو ژبې یواځې د جمع او مفرد حالت ساتلی او تثنیه کښې دوه عدده چې جمع نه ګڼل کیږي له لاسه ورکړي.

پښتو لاهم د مذکر او مونث صیغې ساتلي خو ددې ژبې مونث له لاسه ورکړي او پښتو د اوستا ژبې پر خلاف موخنث له لاسه ورکړي دي.(۱۶)

په هرحال دې برخه کښې زما مطالعې دا په لاس راکړي چې د پښتو ژبې د تاریخي تحول او ګرامري بدلون لپاره باید مونږ تاریخي ګرامر ولرو چې له بده مرغه تر دې دمه په لاس کښې نشته نو دا تغیرات په دقیق ډول نشي مطالعه کیدای.

د پښتو ژبې په ګرامري ډګر کښې دا او دې ته د ورته بدلونونو او پرمختګونویو عمده لامل د پښتنو تېرونو مهاجرتونه او له نورو قبایلو سره راشه درشه ګڼلی شو.

پایله

کله چې سکندر مقدوني پر افغانستان یرغل کوي ، د افغانانو اړیکه هم یو ډول نه یو ډول له هغوی سره رامنځته شوې ده . زموږ ګاونډې هېواد هند ته هم پښتنو ډېر مهاجرتونه کړي دي دا ځکه چې پښتانه په هند باندې د (۲۰۰) کلونو په حدود کښې حکومت کړی دی چې ډېری پښتانه تراوسه هم هند کښې مېشت دي . همدارنګه کله چې په ۷مه میلادي پیړۍ کښې د اسلام مقدس دین د عربو په واسطه زمونږ په هېواد کښې خپریږي نو پښتانه هم له د ېني زده کړو د ترلاسه کولو ، د عربي ژبو زده کولو د حج د فریضیې د ادا کولو او زرګونو نورو دلیلونو په وجه عربي ایالاتو ته مهاجرتونه کړي دي .

اورپايي هېوادونه ته هم پښتنو ډېر مهاجرتونه کړي دي، چې دلیل یې هم تر ډېر حده پورې د افغان انګریز جګړې وې .خو اوس په معاصر وخت کښې پښتنو اورپایي هېوادونو ، امریکایې ،

اسیایې او افریقایې هېوادونو ته هم مهاجرت کړی دی او د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې هستوګنه لري چې د ځینو ښو حالاتو لکه: اقتصادي پرمختیا ، تجارت ، تحصیل یا هم د بدو حالاتو په وجه لکه: نا مساعد اقلیمي شرایط ضعف او فقر یا هم کورنیو جګړو په وجه پښتانه د مهاجرت د تر سره کولو لپاره اړ شوي دي.

پورته یادو مهاجرتونو د پښتنو په ژوند ژواک او د ژوند په بېلابېلو اړخونو یې مطلوب او نامطلوب تاثیرات کړي دي. خو تر ټولو عمده تاثیر یې ددوی په ژبه (پښتو) باندې کړې. چې دژبې په پراخېدو او

د نړیوالو سره د اړیکو په متقابلو تاثیراتو کښې یې ژبه د یوشمېر ننګونو او پرمختګونو سره مخ کړې ده.

حوالې:


۱. دملګروملتونو دمهاجرت عالي کمېشنري او نړیوال مسؤنیت، دمسؤنیت کلي پروګرام ، لومړی ټوک، ۲۰۰۶، ۱۲۰۲: ژنېوا، سویتزرلنډ، ۲۰ مخ.

۲. مهاجرت، ویکیپدیا، دانشنامه آزاد.

۳- آریانا دایرة المعارف (۱۳۹۶ هـ. ش). شپږم ټوک. کابل: احمد مطبعه.

۴- اورمړ، خلیل الله، آریاني ژبې، کابل مجله، ۵-۶ ګڼه، ۱۳۸۶ هـ ش، ۱۲۵ مخ.

۵- همدا حواله.

۶- اورمړ، دوکتورخلیل الله، مقدمه بر زبان اوستایی، اکادمي علوم، کابل، ۱۳۹۲ هـ ش، ۴۰ مخ.

۷- ترې، حبیب الله، پښتانه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۹۹۹م.

۸-بخرکی، ننګیالی، د پښتنو د پر لرغوني ادبي ستوري، اميري خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۸۹ هـ ش.

۹- زيار، مجاوراحمد، پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې، ( دويم چاپ)،دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۵ هـ ش.

۱۰- غوربندی، ميراجان، ګړدودپوهنه، جهان دانش خپرندويه ټولنه ،کابل، ۱۳۹۵ هـ ش.

۱۱- بېلابېل ليکوال، پښتو ژبه جهانيت، ستونزې او امکانات، (د مقالو ټولګه) پښتو اکيډمي، بلوچستان کوټه، ۲۰۱۷ م.

۱۲- همدا حواله.

۱۳- غوربندی، ميراجان ، لکسيکالوژي (لغت پوهنه) ، کابل: نامی انتشارات،۱۳۹۴ هـ . ش.

۱۴- اخلاص، نظيفه، پښتو ژبې تاريخ، نويسا ، کابل، ۱۳۹۶هـ.ش.

۱۵- زيار، مجاور احمد ، پښتو پښويه، د لوړو او مسلکي تحصيلاتو وزارت،کابل، ۱۳۶۴ هـ ش.

۱۶- شېرزاد ، محمد اقا ، پښتوګرامر(مورفولوژي)، د ريپرو مطبعه، هند ، ۱۳۹۱هـ ش.

**References:**

1-UNHCH & International Protection, a protection induction program, first edition 2006, 1202 Geneva, Switzerland, page 20

2- fa.m.wikipedia.org/wiki/10/07/2022

3- Ariana Dairatul Marif .(2017). 6th edition, Kabul: Ahmad press.

4-Ormar, Khalilulah, Ariani Zhabe, Kabul Mujala, 5-6th Edition (2007) 125 p

5- Same reference

6-Ormar, Khalilulah, Muqadama bar zuban e Awestaye, Kabul: Afghanistan Academy of Science, 2013, 40 p.

7- Tagai, Habibulah, Pashtana, Danish press, Peshawar, 1999.

8- Batsarkai, Nangialai, Da Pashto der Larghoni Adabi stori, Amiry press, Kabul, 2010.

9- Ziar, Mujawer Ahmad, Pashto Aw Pashtana Da Zhabpohane Pa Rana ke, Danish press, 2016.

10- Ghorbandai, Mirajan, Gardood Pohana, Jahan e Danish Press, Kabul, 2016.

11- Multi writers, Pashto Zhaba aw Jahaniat- stonzi aw imkanat(Articles collection), Pashto Academy Balochestan, 2017.

12- Same reference.

13- Ghorbandai, Mirajan, Lexicology, Nami Entisharat, Kabul, 2015.

14- Ekhlas, Nazifa, Pashto Zhabe Tarikh, Nawesa press, Kabul, 2017.

15-Ziar, Mujawer Ahmad, Pashto Pkhoya, Higher education Ministry, Kabul, 1985.

16- Shirzad, Muhamad Aqa, Pashto Grammar (Morph